# چهل ګنج

خپرونکی:انتشارات صدر

دویم چاپ پسرلی ۱۳۹۱ بازنویس:حسن ناصري

# دچهل ګنج ژباړه

(څلوېښت خزانې)

ژباړونکی:هوتک مینه وال

Ketabton.com

کال ۱۳۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونه مخکي د احمد او جمیلي په نامه ښځه او خاوند اوسېدل

احمد کم (کوم) خاص کسب او مهارت نه درلود.هغه یوازي یو بېل او کلنګ درلودل او تل به یې خپلي ښځي ته ویل:که مو چیري بخت راویښ سي مور ته مخه کړي او په مځکه کي د کیندلو پر وخت خزانه پیدا کړم.هغه وخت به دتل لپاره روپی ولرو ؛او کولای سو دژوند تر پایه ښه آرامه ژوند ولرو.خو دي خبرو جمیله نه راضي کوله.

یوه ورځ د تل غوندي جمیله عمومي حمام ته ولاړه .خو د ننوتلو د دروازې مخکي دحمام مسول یې مخه ونیول او ویې ویل: ته نسې کولای چي دننه ولاړه سې؛ځکه چي نن ورځ ټوله حمام د سلطان فالګیر دښځي په اختیار کي دئ.

جمیله چي ډېره خفه سول ویې ویل:څنګه مغروره او دهرڅه نه راضي!مګر هغه څوک ده؟فقط زما خاوند یو بېکاره دئ چي داسي کار نلري ؛ او یا دا کار نسي کولای.په هر حال د جمیلې دلاسه هیڅ نه راتله اړه سوله بېرته کور ته ولاړه سي.د راتلو په حال اولار کي ئې ټول سوچ په دې موضوع بوخت وو.

او د ځان سره به یې ویل ولې زما خاوند یو فالګیر ندئ؟

په دې وخت کي چي ئې کله خاوند دکار د خوا راغی؛ او خپل لاسته راوړی مزد یې ورښکاره کړ جمیلې وویل:احمده!دې بې ارزښه سکې ته وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه نـور دا حالـت نسـم زغملی؛سـر دسـبا څخـه بايـد ښـار تـه ولاړ سـې او پـال وګورې.احمـد پـه حيرانتيـا وويـل:جميلې، مګـر ليـونی سـوې يـې؟ زه د پال کتلو په اړه هيڅ نه پوهېږم.

جميلې وويل:اړتيـا نـده پـوه سـې.يوازې بـس ده چې د پـال کتلـو خاصـه مـری واچـوې او څـه چې ريښـتيا تـه نـژدې وه کـرار ووايـې. داسـې چې واضح نـه ئې.يـا بـه دا کـار کـوې ،يـا مي زه دپـلار کورتـه ځم.داغسـې وه چې دا بلـه ورځ سـهار ،احمـد بيـل او کلنـګ وپلـورل. او دهغـو پـه روپيـو يـې د پـال کتلـو خاصـه تختـه او جـامې واخيسـتلې؛ او همداسـې چې جميلـې ويلي وه. په ښار کې د عمومي حمام په دروازه کې کښېناستی.

ډېـر وخـت نـه وو تېـر سـوی چې ويـې ليـدل چې د پاچـا د وزيرانـو د يـوه وزيـر ښـځه د ده خواتـه راروانـه وه . احمـد ډېـر وارخطـا اولاس و پښـه سـو.

د وزيـر ښـځه ورتـه مخ تـه راغلـه او ويـې ويـل:ای پـال کتـونکې تـه بايـد زمـا سـره مرسـته وکـړې تـر څـو مي ګـوتمۍ پيـدا کـړم. نـن سـهار چې حمـام تـه راتلـم ډېـره ګرانـه ګـوتمۍ راسـره وه. خـو اوس ورکـه سـوې ده .هيلـه کـوم هغه راته پيدا کړه

احمد سترې اسويلی وکېښ؛ او مری يې واچول.

هغـه پـه داسـې حـال کې چې سـوچ ئـې کـوی چې څـه ووايـې ،نـابېره يـې د ښـځې د جـامو پـر لسـتوني سـترګې ولګېـدې او ويـې ليـدل چې يـوه برخـه يـې سوری ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد دځان سره سوچ وکړ او داسي يې ښکاره کړه چي څه يې ذهن ته رسيدلي. ورنږدې سو. کرار ئې وويل:مېرمني! زه يو سوری وينم.دوزير ښځي سر ورته نږدې کړ تر څو ئې په سمه توګه واوري؛ ويې پوښتل :څشي؟ احمد وويل :يو سوری، يو سوری !

د وزير ښځه د دې خبري په اورېدو سره خوشاله سوه او ويې ويل:سهي سمه ده. په ياد مي راله چي ما چيري ايښې ده.او په ډېر تلوار حمام ته ولاړه او ګوتمۍ يې راواخيستله چي د حمام د ديوال په سوري کي يې ايښې وه.

بيا بېرته احمد ته ورغله او ويې ويل: شکر خدايه هغه مي پيدا کړه تا د هغه ځای سهي وويل.

په داسي حال کي چي د حيرانتيا څخه د احمد خوله خلاسه پاته وه؛د وزير ښځي هغه ته د طلا يوه سکه ورکړله او ولاړه.

هغه شپه چي جميلې هغه سکه وليدل؛او دا کيسه يې چي واورېده ډېره خوشاله سوه. او ويې ويل: احمده! ودي ليدل ستونزه يې نه درلوده .

احمد وويل: دا ټوله دالله مهرباني وه؛چي نن يې زموږ سره مرسته وکړه؛خو نور د داسي کار کولو توان نلرم.

جميلې په خفه توب وويل:داخبره مکوه! زما سره مينه لرې او غواړې زما سره ژوندوکړې،خامخا به سبا هم ښار ته ځې او پال به ګورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې مسلې په نيمه شپه د هغې شپې د پاچا خزانه د مانۍ سه غلا سوله.

ځلوېښتو غلو، ځلوېښت صندخه (صندوقه) طلا او جواهر د مانۍ څخه ويستل.

د راتلونکي ورځي په سهار د غلا د مسلې څخه پاچا خبر کړل سو ؛او پاچا امر وکړ چي د دربار لوی پال کتونکی او دهغه لاس نيونکي راتول کړئ او ماته يې راولی.د ښار تول پال کتونکي راغلل او مری يې واچول خو ګته يې نه درلودل ځکه چي هيڅ يوه و نه سو کړلای د غلو پټ ځايونه او خزانه پيدا کړي.

پاچا چي په خښم سو چيغه يې کړه. دا تول چل ورکوونکي ونيسی او بند خوني ته يې واچوی.

په دې حال کي يې پاچا ته خبر ورکړ چي په دې ورځو کي په ښار کي يو پال کتونکی پيدا سوی چي توانيدلی د وزير د ښځي ورکه ګوتمۍ پيدا کړي.

پاچا خپل دوه ساتونکي ورولېږل تر څو هغه راولي.

احمد چي کله دپاچا مخ کي ودرېدی دبيري ئې پښې او لاسونه رېږديدل.

پاچا وويل:ځوانه پال کتونکې!زما ځلويښت صندخه د طلا و جواهراتو غلاسوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا څخه غوارم چي دغلو پټ ځای راوښايې. احمد بې له دې چي سوچ وکړي ژرئې وويل: ګرانه پاچا بې غمه سه زه خامخا د څلوېښتو غلو پټ ځای درته پيدا کوم.

پاچا وويل: د حيرانتيا وړ ده! هيڅ چا ونه سو کولای څه وکړي او ته په داسي آسانۍ ادعا کوې چي کولای سې هغه پيدا کړې.

احمد د دې خبري په اورېدو سره لا ببري واخيستی خو چاره يې نه درلوده نو ويې ويل:زه خپل ټوله هڅه او کوښښ کوم تر څو هغه پيدا کړم خو دا کار وخت غواړي .پاچا وويل: څونه؟ احمد سوچ وکړ او ويې ويل:زما ګرانه پاچا!څلوېښت ورځي،د هر يوه دپاره يوه ورځ پاچا وويل:څلويښت ورځي ډېر وخت دئ خو چاره نسته يوازي په دې شرط چي هغه په دې وخت کي خامخا پيدا کړې که بريالی سوې پولداره به سې خو که دا کار ونسې کړای د نورو پال کتونکو غوندي به د ژوند تر پايه په بندخونه کي پوست واچوې.احمد سر وښوروی او په ناهيلۍ سره د مانۍ څخه ووتی او کورته ولاړی.

دا چي کورته رادننه سو په ويرجن حال يې جميلې ته وويل:وګوره جميلې دا سر خوږی هم تا راته جوړ کړی؛پاچا څلوېښت ورځي ماته وخت راکړی تر څو غله او خزانه يې ورپيدا کړم؛او که ونسم کړای په دې ټاکلي وخت يې ورپيدا کړم دتل لپاره به ما بندي کړي.جميلې وويل:نـاهيلۍ کېږه مه. دڅو صندوخو پيدا کول خو څه ستونزه نده.ته خامخا بريالی کېږې. مګر تا د وزير د ښځي ګوتمۍ پيدا نکړله؟احمد وويل:جميلې!ما خو تاته ټوله کيسه وکړل. ولي باور نکوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې ګوتمۍ پیدا کېدل د خدای (ج) په غوښتنه او مهربانۍ وه؛خو دا پلا مسله ډېره توپیر لري، دا ځل نو هیڅ هیله نسته.

وروسته احمد لږ وچه خرما واخیستل او ځلوېښت دانې یې وشمېرلې او په کوزه کي یې دننه واچولې او ویې ویل:زه هره شپه د دې خرما څخه یوه خرما خورم تر څو ښکاره سي چي ځلوېښت ورځي مي په خلاسیدو دي.

یو کس دپاچا د خدمت ګارانو څخه هم دهغو ځلوېښتو کسو غلو غړی وو او د احمد او پاچا تر مابینځ خبري یې ټولي اورېدلي وې.

هغه په هغه شپه د غلو پټ ځای ته ورغی او دغلو مشر ته یې وویل:نن ورځ سهار یو پال کتونکی پاچا ته راغلی وو او ویل یې چي خزانه او غله په ځلوېښتو ورځو کي پیدا کوي.

د غلو مشر وویل:کېدوني نده درواغ ئې ویلي یي؛او کېدونې ده د سحر او جادو په واسطه دا کار وکولای سي.اوس باید ته خپل کالي بدل کړې او پټ د هغه پال کتونکي کور ته ورسې خبر تر لاسه کړې.

هغه شپه دپاچا خدمتګار د احمد د کور پر دیواله وروختی او دبام شاته پټ سو تر څو دهغوی خبري واوري.

په دې وخت کي احمد اوله خرما دکوزې سه راویستل ویې خوړل او جمیلې ته ئې وویل:دا یې اولنۍ .

غله ددي خبري په اوریدو سره لرزې واخیست،داسي چي نژدې وو د بام د شاه څخه ولوېږي.وروسته ډېر ژر د غلو پټ ځای ته راستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـو ؛او د غلـو مشـر تـه یې وویـل:دا پـال کتـونکی رښـتیا هـم حیرانـوونکی تـوان لـري هغـه بې لـه دې چي مـا ووینـي پوهیـدی چي زه دبـام تـر شـاه یـم .ما خپل په غوږو واورېدل چي ویې ویل داپې اولنی.

مشـر وویل:کېـدونې ده ناسـم دي اورېـدلي یـي. دپـوره ډاډ دپـاره دي سـبا ماښام ستاسره یو بل کس هم ولاړ سي.

دابلـه شـپه د پاچـا دخـدمتګار سـره یـو بـل کـس هـم د غلـو څخـه ورسـره رالی (راغی) د احمـد دکـور دبـام شـاته؛او دتېري شـپې غونـدي یې د احمـد دی خبرو تـه غـوږ ونیوی،احمـد دوهمـه خرمـا وخـوړل او ویـې ویـل:دا یـي هم دوه!

غلـو چي خپـل لاس او پښـې ورکي کـړي وې ژر تـر ژره دهغـه ځـای څخـه وتښتېدل او خپل تر پټ ځای په ځغاسته راغلل.

د پاچـا خـدمتګار د غلـو مشـر تـه وویل:هغـه پوهېـدی چي مـوږ د بـام شـاه تـه دوه کسـه پـټ سـوي یـو؛او ویـې ویـل دا یـې هـم دوه. دغلـو مشـر وویل:زه خو باور نه کوم.

پـه دې خاطردابلـه شـپه د غلـو دمشـر پـه امـر غلـه درې کسـه ورغلـه داغسـي څلـور، پنځـه، شـپږ، ... کسـه ولاړل همـدا مسـئله روانـه وه تـر دې چي څلوېښتمه شپه راورسېدل او وار دغلو د مشر راورسېدی.

هغه وویل: نن زه خپله هم ستاسو سره ځم.

پـه څلوېښـتمه شـپه ټـول څلوېښـت غلـه داحمـد دکـور پـر بـام راوختـل تـر څـو دهغـه او ښـځې خبـري ئې واوري پـه دې حـال کي احمـد آخـري خرمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په کوزه کي د ننه پټه وه وروسته د څه مودې يې په غمجنه څېره راويستل ويې خوړل ؛او په لوړ آواز يې وويل: دا يې هم څلوېښت.اوس يې شمېر پوره سو.

جميله يې څنګ ته کښېناستل او په مهربانۍ ئې وويل:احمده! ما وبخښه ما غلطي وکړه چي ستاسه مي وغوښتل ته پال وګورې.ما نبايد ته دې کار ته اړ کړی وای چي توان يې تا نه درلودی. ته بايد هغه وای چي وې.

احمد وويل :پروا نکوي.اوس کار سوی دئ او بله چاره نلري.خپله هم په دئ کار کي ګرم يم ځکه په هغه چي اول لا پوه وم چي سم اوښه کار ندئ بيا مي هم کوی. خير اوس دا خبري هيڅ ګټه نلري.

په دې حال کي د دروازې ږغ پورته سو. احمد سوړ اسوېلی ويست او ويې ويل:خامخا دپاچا کسان دي.په دې حال کي چي په بېره او رېږدېدو د دروازې پر خوا روان وو په لوړ آواز يې وويل:ډېر ښه ډېرښه!رالم (راغلم).لږ صبر وکړئ؛پوهېږم تاسو دڅه کار دپاره راغلي ياست.خو کله چي يې دروازه خلاسه کړله حيران سو څلوېښت کسه يې وليدل؛چي ټولو د ده مخکي ځنګون وهلی او ټنډې يې پر مځکي اېښي دي.

دغلو مشر وويل:ای ستر پال کتونکې!البته چي ته پوهېږې.ځکه چي هيڅ يو شی ستاسو دسترګو څخه نسي کولای پټ سي؛ او تاسو د هر څه سه باخبرياست .موږ ستاسو څخه غواړو چي زموږ راز ښکاره نکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمـد د دې سـره چي پـه اول سـر کي ګـنګس سـوی وو خـو پوهېـدی چي دا څلوېښـت کسـان بايـد دپاچـا دخزانـې غلـه واوسـي . پـه دې خـاطر بـې لـه سـکوته يـې وويـل:ډېر ښـه!زه تاسـو پاچـا تـه پـه لاس نـه ورکوم.خـو تاسـو بايـد قـول راکـړی چي هغـه صـندوقونه چي تاسـو د پاچـا دمـانۍ څخه غلا کړي دي بېرته خپل پر ځای ځای پر ځای کړئ.

دغلـو مشـر پـه زاری او عـذرونو وويل:خامخـا،موږ ژر تـر ژره دا کـار ترسره کوو.

پـه دې حـال کي مخکـي لـه دې چـي يوڅلوېښـتمه ورځ راورسـېږي؛غلو څلوېښت سره صندوقونه طلا او جواهر په پټه د پاچا مانۍ ته يوړل.

دابلـه ورځ سـهار احمـد پاچـا تـه رالی و پاچـا تـه يـې وويـل: ګرانـه پاچـا هغسـي چي مـي درتـه قـول درکـړی وو پـر وخـت مـي دا دی راغلـم خـو زمـا جـادويي تـوان کـم سـوی يـوازي کـولای سـم د صـندوخانو (صـندوقانو)او غلـو څخـه يـو درتـه پيـدا کـړم د دواړو پيـدا کـول راتـه نکېـدونی دئ.اوس تاسـو د دې دوو څخـه کـم يـو غـواړی ؟ پاچـا وويل:ښـکاره ده چـي صـندوخونه غـواړم! احمـد وويل:ريښـتينی د نـاهيلېتوب ځـای دئ چـي نسـم کـولای د غلـو پټ ځايونـه هـم پيـدا کـړم خـو کـه ستاسـو پرېکـړه بدلـه سـوه لکـه سـره غـوړي داسـي درتـه تيـار يـم. پاچـا وويل:هغـه پرېـږده،اوس وو ايـه زمـا خزانـه چيـري ده؟تـر څـو ژر تـر ژره خپـل کسـان ورولېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمـد وویل:ګرانـه پاچـا! اړتیـا نسـته دا کـار وکـړې  وروسـته د لاسـو پـه ښـورولو یـې دا وویـل:اجي مجي لا ترجي او ویـې ویـل:اوس د دې کلمـو پـه ویلو سره ټول صندوخونه طلا او جواهرات خپل ځای ته راغلي.

پاچـا د احمـد سـره ولاړی تـر څـو خپـل خزانـه وګوري.دا چي دپاچـا سـترګي پـر صـندوخونو ولګېـدې حیـران سـو پـه چیغـه یـې وویـل: ریښـتیا چي هـم تاسـو سـتر پـال لیـدونکی یاسـت. ددې ننـه تاسـي ځـان د دې دربـار غـټ پال کتونکی وبولی!

احمـد ورتــه تعظـیم وکـړ او ویـې ویل:ګرانــه پاچـا،ستاسـو دمهربـانۍ څخـه مننـه خـو دا کـار زمـا دپـاره ناشـونی دئ ځکـه چي ستاسـو  دخزانـې پیـدا کـول او بېرتـه خپـل ځـای تـه راوړل مـا تـه ډېـر سـخت کـار وو نـو زه اړ سـوم ټولـه تـوان او طاقـت مي ولګـوم او نـور تـوان نلـرم چي  لکـه مخکي داسي وړاند وینه وکړم.

پاچـا پـه ویـرجن حـال وویل:ښـه ونسـو!نو زه اوس تاتـه دوه برابـره ډالـۍ درکـوم .راسـه او د دې دوه صـندوخه ځـان تـه یوسـه داسـي احمـد دښـې تجربې او ثروت چي ئې لاس ته راوړی وو د جمیلي خواته راغی.

هغـه پوهېـدلی وو کـه خـدای پـاک وغـواړي کـولای سـي ناشـونی کـار هـم شـونی کـړي خـو انسـانان بایـد  پـه لـومړي قـدم د کـارو کي خطاګـاني پرېــــــــــــــــردي او توبـــــــــــــــه وباســـــــــــــــي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

**اخیستلیکونه**

د ژباړل شوي کتاب نوم چهل ګنج

خپرونکی:انتشارات صدر

دویم چاپ پسرلی ۱۳۹۱

بازنویس:حسن ناصري

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**